احمد شاه ((وحيد))
Ahmad Shah (Wahdat)
A.F.R.C.

SHARIAT WEEKLY
شريعت
اوونيزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپريږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
دريم کال يو پنځوسمه ګڼه پرله پسې (۱۵۱) يکشنبه د۱٤۱۹هق کال د ربيع الثاني (۱۰) د۱۳۷۷ هـ ش کال د زمري دمياشتي (۱۱) د۱۹۹۸ ميلادي کال د اګسټ (۲)

الهي فرمان
عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدي دی تقوا (پرهيزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !
ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بګذاريد.

يك تعرض هماهنگ شوراي نظار و مليشه هاي خليلي در دره ء غوربند به شكست مواجه شد

يك تعرض هماهنگ مليشه هاي خليلي و شوراي نظار كه از دو استقامت بالاي مواضع و استحكامات مجاهدين اردوي اسلامي در مربوطات ولسوالي غوربند ولايت پروان آغاز گرديده بود به نصرت الهي عقب زده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر از قول منابع نظامي كشور خبر ميدهد در اين تعرض ناكام كه از دو استقامت بالاي مواضع و سنگر هاي مجاهدين اردوي اسلامي در ولسوالي غوربند آغاز يافته بود علاوه بر كشته شدن بيست و شش تن از افراد دشمن ده تن ديگر شان زخمي شده اند كه دشمن به شكست قطعي مواجه گرديده.

در اين تعرض ناكام علاوه بر متحمل شدن تلفات جاني و مالي پنج سنگر مستحكم دشمن تخريب، يك دستگاه دافع هواي دشمن بكلي از بين رفته و بيست تن از افراد خليلي كشته شد كه اجساد شان تا اكنون درميدان نبرد باقيمانده است.

همچنان طي اين تعرض به تعداد شش تن از افراد شوراي نظار كشته و دو تن ديگر ايشان بنامهاي اسد الله و نصر الله اسير، چهار ميل كلاشينكوف و يك ميل راكت انداز به غنيمت مجاهدين اردوي اسلامي در آمد.

بايد متذكر شد كه مورال رزمي مخالفين امارت اسلامي بعد از شكست هاي متواتر در جبهات مختلف روز بروز ضعيف تر گرديده كه انشا ء الله در آينده نزديك گليم ظلم و جنايات ايشان در صفحات شمال كشور به همكاري مردم آن مناطق بر چيده خواهد شد.

موسسات خيريه داخلي به منظور فعاليت هاي منظم و خدمات سالم خويش دفاتر شانرا به ساحه بلاك هاي جمعيت افغاني سره مياشت انتقال ميدهند

مؤسسات خيريه داخلي به منظور عرضه خدمات سالم و فعاليت هاي منظم خويش دفاتر شانرا به ساحه بلاك هاي جمعيت افغاني سره مياشت واقع افشار كابل انتقال ميدهند.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد. در ملاقاتيكه محترم قاري دين محمد «حنيف» سرپرست وزارت پلان [illegible] موسسات غير حكومتي داخلي داشت، روي انتقال دفاتر موسسات متذكره به بلاك هاي جمعيت افغاني سره مياشت واقع افشار و ترميم اساسي بلاك هاي متذكره و تأمين جريان برق [illegible]

ص ٤

به ادامه برگشت مهاجرين به كشور:

بيش از شش صد خانواده مهاجر به وطن خويش بر گشتند

بنابر اقدامات خيرخواهانه و فراهم آوري تسهيلات امارت اسلامي، بمردم متدين اين كشور، اخيراً بيش از ششصد خانواده از باشنده گان مناطق مختلف ولسوالي پتان ولايت پكتيا از پاكستان بوطن بر گشتند.

بگزارش خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر گرديز، فاميل هاي متذكره كه قبلاً به اثر مظالم كمونيست هاي وحشي منازل شانرا ترك و به خارج از كشور مهاجر شده بود ند با استفاده از فضاي صلح و آرامش در كشور بوطن برگشته

ص ٤

سنگ تهداب يك باب كلنيك در ولسوالي بهسود ولايت ننگرهار گذاشته شد

سنگ تهداب كلنيك ولسوالي بهسود ولايت ننگرهار طي محفلي گذاشته شد

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال آباد گزارش ميدهد : در محفليكه به همين مناسبت تدوير يافته بود بعد از آنكه آياتي چند از كلام الله مجيد قرائت گرديد محترم مولوي عبدالمجيد معاون صحت عامه ولايت ننگرهار در رابطه به ارزشمندي و اهميت تاسيسات و كلنيك هاي صحي صحبت نموده ايجاد يك باب كلنيك را در ولسوالي بهسود گام ارزنده يي در جهت رفع مشكلات صحي مردم آن ولسوالي تلقي نموده از اقدامات امارت اسلامي در اين عرصه اظهار خوشي نمود.

كلنيك صحي متذكره در ساحه نيم جريب زمين از بودجه امارت اسلامي افغانستان و مبلغ ٤٤ ميليون افغاني كمك پولي سه تن از اهالي آنولسوالي محترم حبيب زلمي ، محترم حاجي فضل كريم و محترم حاجي لايق خان به طور اساسي و پخته اعمار ميگردد.

با ايجاد كلينيك متذكره تسهيلات زيادي به اهالي آنولسوالي فراهم ميگردد.

د اندخوي په فتحي سره:

فارياب ولايت په بشپړه توګه د مفسدو او ملحدو مليشو له ناولتيا نه پاک شو

د اسلامي اردو فاتح ځواکونه د اسلامي او ملي حاکميت او زمکني بشپړتيا په لور وروستي ګامونه اخلي

د فارياب په ولايت کي د اسلامي اردو د اتلو مجاهدينو د فتوحاتو په لړ کي په الهي نصرت سره د ربيع الاخر په ۸ مه د فيض اباد او دولت اباد د ولسواليو د فتحي په تعقيب د اندخوي د ستراتيژيکي ولسوالي په فتحي سره په الهي نصرت د فارياب په ټول ولايت کي د اسلام بيرغ رپاند شو . بوازي د فيض آباد او دولت آباد په فتح شويو ولسواليو کي د دښمن پنځوس موټرونه، اته ټانکونه ، دوه بي ام ، ٤٠ دستګاه وي او نوري [illegible] درني وسلي د اسلامي اردو د مجاهدينو لاس ته ورغلي دي په [illegible] کي د دښمن څلور سوه تنه ژوندي [illegible] شوي او د ګلم جم نوري مليشي په [illegible] شوي دي . په فارياب کي د اسلامي اردو د تصفيوي عملياتو مسؤول او د افغانستان د اسلامي امارت د کورنيو چارو د وزارت سرپرست محترم ملا خير الله خيرخواه د بي بي سي راډيو خبريال ته د

ص ٤

نامه رسيده

به اداره محترم هفته نامه شريعت !
السلام عليكم و رحمة الله و بركاته !
آرزومندم تا مطلب ذيل را [illegible] به سمع [illegible] رهبري موسساتيكه از طريق ايشان نان خشك توسط كارت توزيع مي گردد و مخصوصا WFP رسانده ممنون [illegible]
ما به اين عقيده كامل [illegible] مطلق خداوند ج است در شرايط فعلي تمام مردم افغانستان و مخصوصا [illegible] كابل مستحق كمك مي باشند [illegible] نظري و حسادت وجود ندارد ولي [illegible] مي گردد كه كارت هاي نان واقعا به ارتباط خويشاوندي، ارتباطات شخصي

ص ٤

د مزار شريف څخه زموږ د راتللو وروسته حسين علي څه وايي؟

عبدالله د دريم مكروريان اوسيدونكى

د جمعي ورځي په ماښکر د خپلو بچيانو سره د کور په مخکي ناست وم، چي زموږ نوي ګاونډي د السلام عليکم په ويلو سره ځان راوپيژند او له روغبړ وروسته مي ور څخه وپوښتل ، چي دغه کور ته نوي راغلي ياست، هغه په ځواب کي وويل : بلي صايب !

ما دو باره وپوښتل ، چي مخکي چيري اوسيدلي ؟ محترم حسين علي وويل په مزار شريف کي، ډير ښه ښه غواړم يوه پوښتنه بله هم لرم او هغه دا چي تا سوخو په قوم هزاره ياست او هلته کوم خطر هم تاسو ته متوجه نه وو پس څه علت و چي کابل ته مو

څلورم مخ

د کندهار د فوايد عامي رئيس محترم ملا ګل احمد له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي:

د کندهار چمن د لويې لاري اساسي ترميم موپيل کړيدي

د کار لپاره کافي وسايل او امکانات لرو

د سوداګرو، موسسو او نورو خلکو هر فرمايش منلو ته چمتو يو

محترمو لوستونکو !
زموږ خبريال په کندهار کي د کندهار د فوايد عامي د رياست له رئيس سره د دوي د کارونو په اړه مرکه کړيده چي لوستلو ته يي ستاسو پام را اړوو .

پوښتنه : لطفاً د شريعت اوونيزي لوستونکو ته ځان معرفي کړي ؟

ځواب : زما نوم ملا ګل احمد د بهاء الدين اخند زاده زوي د غزني د ولايت د ناوې د ولسوالي د صالح ګل د قريي اوسيدونکي په قوم ميرزايي يم ديرش کاله پخوا زيږيدلي يم درس مي د چراغ په محمديه، دوانه په ضياء المدارس او د کوټې په نور المدارس کي ويلي دي او اوس د کندهار ولايت د فوايد عامي د رئيس په توګه کار کوم .

پوښتنه : د کار لپاره څومره وسايط لري ؟

ځواب: دوه هينو موټر مونوي پيرودلي، اته دمسترک

څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د مرکزي سيمو هيوادوال دي خپل دښمنان وپيژني

زموږ د هيواد په مرکزي او ورګيرمه سيمو کي هستوګن هم لکه نورو هيوادوالو په جهاد کي پوره ونډه واخسته او له هيواد نه د دفاع په وختونو کي تل په ميړانه راپورته شوي دي او له نورو هيوادوالو سره ورږه په ووږه دريدلي دي، ځان بي بيل قام او بيل مذهب نه دي ګڼلي او نه نورو هيوادوالو دوي له ځانه بيل او پردي ګڼلي دي:

د هيواد په شل کلنه ستونزه کي د دوي ريږه له نورو نه زياته وه او بر نورو زيات ځوربدل داواړه د هغو ډلګيو له لاسه چي ځانونه د دوي د حقونو مدافع بولي مګر د دوي د سرونو اوپنو په بيه خپل جيبونه ډکوي او په بهر کي خپلي زيرمي پړسوي، ايراني چارواکي چي دوي ته ځان نږدي بولي، خپل کلتور او فرهنګ د دوي د افغاني کلتور او عنعناتو په ځاي پلي کوي او خپل نيمه خوا او منحرف انقلاب دوي ته ورصادروي، د دوي په سر بي خپل کرايه کړي مزدوران ټاکلي دي او د دوي د ستونزو او کړاوونو اورته لمن وهي پخپلو منځونو کي يي سره وژني او په نورويي هم وژني، دا ددي لپاره چي دوي له فکري فرصت او استقلال نه لري وساتي او د غلامي سوچ ورتزريق او په هغه بي روږدي کړي .

دوهم مخ

د کندز ولايت د خان آباد د ولسوالي د بريښنا سربند ترميم شو

د افغانستان اسلامي امارت د زړه له کومي کوښښ کوي چي په هر ځاي کي د خپلو ځوريدلو خلکو له پاره د ژوند ښه شرايط برابر کړي او هغه عام المنفعه تأسيسات چي د کمونيستانو د واکمني په دوران کي وران شوي وه بيرته جوړ او په کار بي واچوي چي ددغه انساني هلو ځلو په ترڅ کي د روان کال د ربيع الاخر په ٦ مه د کندز ولايت د خان اباد په ولسوالي کي د بريښنا د سربند سل متره ساحه چي مخکي بي ټول تاسيسات له منځ تللي و او د مليشو له خوا چور شوي و د تومو ږي ولايت د فني او مسلکي پرسونل او د خلکو په مستقيمه همکاري بيا ترميم شوه، د بريښنا د سربند د بيا ترميم او فعالولو په وخت د

څلورم مخ

په ميدان کي د اسلامي امارت رغوونکي پلوشي

د اسلامي امارت مشرانو د دي سيمي د سوکالي او هوساينې لپاره جنګ ګامونه اخيستي دي

د ميدان سيمه د کابل په لويديځ کي حراکي موقعيت لري، او په دوو لويو دروه (ترخ او جلريز) ويشل شوي او د کابل له ښار څخه نژدي ديرش کلو متره لري پرته ده دا سيمه په ډنګو او لوړو غرونو احاطه شوي او ډيري ښکلي اوښتي دري لري چه په کي هر راز سيري داني او ډول ډول حبوبات او سبزيجات پيدا کيږي او خصوصاً په اوس وخت کي بي مڼې، پتنګې اوزردالو ډير مشهور او د هيوادوالو د ژوندانه د اړتيا ډيره مهمه برخه رفع کوي او هم ځيني ناحيان د کال په مني کي ددي سيمي د ميوو حاصلات پاکستان ته صادر وي.

په تيرو کلونو کي ددي سيمي د خلکو د ژوندانه سطحه د واړو ورو نه وه او وګړي بي له ډير لږ اقتصادي ستونځو او ټولنيزو مشکلاتو سره لاس په ګريوان وه خو په وروستيو وختونو کي کله چي

څلورم مخ

مونيکا ليونسکي له بل کلنتن سره د خپلو جنسي اړيکو پر اعتراف رضا شوه

د AFP خبري اژانس له خبر سره سم ويل شويدي چي د مونيکا ليونسکي او بل کلنټن تر منځ د ناوړا جنسي اړيکو په هکله بو څو بيا د امريکا په قانوني ځانګو کي ضمني راپورته شوي.

رابور ښايي چي مونيکا د څه مودي لپاره د امريکا د قضايي ځانګو تر فشار لاندي په ددغ ښار علمو دلو چي مونيکا د ليدلو په واسطه د وړاندي شوي شواهدو سربيره هم نه حاضريده چي محکمي ته مخامخ وديږي او هر څه ووايي، که همي په خپل دي سوګند ښکار کړي وي نو محکمي به پر جمهور رئيس باندي د افترا په تور هغې ته سزا ورکړي وه پردي اساس هغه څو ورځي مخکي محکمي ته ورغلي او هر څه يي ويلي دي چي له دي اعتراف سره د مونيکا وکيل اوس کولاي شي چي خپله دعوي له سره چټکه او ډير ژر د پاي ټکي ورته کيږدي. د قانون سره سم بل کلنټن هم مجبور ده محکمي ته حاضر او ځواب ووايي که دغه دعوې په کلنټن باندي ثبوت شوه نو له جمهوري رياست څخه به لري کړل شي . همدارنګه امريکا

څلورم مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په‌پاکستان‌کی(۳) کلداری
پوست‌بکس : (٤٧٦) تیلفون: ۲۰۰۷۵
په پیښور کي :دطالبانونمایندگی‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

د دوي دډلو احمقو مشرانو چي په کابل کي په نورو هیوادوالو د ظلمونو هغه داستانونه او کاني وکړي چي نه د شیطان ورپام و اونه فرعون او نمرود کړي وي هغه واړه له دغو غریبو او خواري کښو هزاره هیوادوالو نه وختلي او د ظالمانو گناهونه په دنیا کي دوي توغ کړل، آخرت خو لا پاته دي؛

له هغه نه پخوا د هزاره کشتمند کمونستانو د دوي په دین ، مذهب، سرونو، مال او ناموس ملنډي ووهلي او له هغه راوروسته بیا وحدتي کمونستانو او ملیشو د دوي وینې د سرونو په کاسه کي ورکړي او لا لگیا دي ورکوي یې، که د بامیانو غریبو خلکو ته له شمال نه مرستې نه رسیږي هم د دوي د ډلگیو مشران لکه محقق او نور یې چور کوي او یایې د هغوي کله پخلا او کله په جنگ انډیوالان (گلم جمان) چور کوي که له جنوبي پلوه د اسلامي امارت ځواکونو لاره کله تړلي وي هم ددي لپاره چي د ډلگیو خیټور یې خپلو خیټو ته راجلبوي نه چي د سیمي دړي اسوگن به یې وخوري، که ایراني چارواکو د دوي دلوږي غم خوړلاي خو د وسلو او جنگي مهماتو د امبارونو په ځای به یې خواړه ورته راوړي ژ چي دوي هیوادوال او د دوي دړي اولادونه ورباندي ماړه شوي واي مگر هغه چارواکي د دوي خواخوږي نه دي بلکي د دوي په وینو او سرونو خپل کرایه کړي سر والان ځارلي یې خپل هدفونه ورباندي تر سره کړي او چي کله یې دغه نوکران له منځه ولاړشي بیا به نو غریبو هزاره هیوادوالو ته مخ هم ورواته ړوي او بوازي به یې پریږدي له دي امله مونږ خپلو هزاره هیوادوالو ته مشوره ورکوو چي خپل وینه څښښونکي کورني او بهرني دوست نما یه دښمنان وپیژني او نور ځانونه ونه غولوي، په هوښیاري سره کرار کرار ځانونه تري نه راټول کړي او بېرته له خپلو هیواد والو سره دوروري‌لیکي‌لاسره‌پیل‌کړي،

دا چي د برو جردیانو یوه بسره په مزار او بله په تهران کي ده منډې رامنډي وهي، ددي لپاره ده چي د خپلو شومو سیاسي مقصدونو لپاره د هزاره قام او ټولو افغانانو د تباه کولو لپاره د وسلو او مهماتو امبارونه راوچلوي، هیواد او هیوادوال راته تباه او بر باد کړي، نه دا چي د خیر او سولي پیغام راوړي او زړه یې راباندي سوځي، که هغسي وي نو بیا ولي په ایران کي زمونږ مهاجرین ځوروي؟ ستونزي ورته پیدا کوي ؟ او نن سبا یې په خراسان کي قیامت ورباندي جوړ کړي دي؟

دا چي د خامنه یې خاص استاځي ابراهیمي بامیانو ته تشریف (!) راوړي هغه په بامیانو کي ایران ډوله علمي حوزي او نور د تحمیلي فرهنگ تاسیسات تنظیموي، د حزب وحدت مروري ډلی سره پخلا کوي، تر ټولو افغانانو په تیره بیا هزاره قام ښه ورباندي وځپي او هم غواړي چي د خپل محبوبیت اور سوځ گراف ځان ته معلوم کړي نه دا چي د بامیانو وږیو تږیو ته به خواړه او دواگاني راوړي،

دا ټول هغه واقعیتونه دي چي زیرك هزاره هیوادوال له هر چا نه مخکي ورباندي پوهیږي مگر مونږ غواړو چي دوي په دغه نازك وخت کي د خپلو مصیبتونو او د خپلي آیندي په هکله هوښیار سوچ وکړي، د میړاني او جرأت تصمیم ونیسي، پردي شاته کړي، خپلو گټو، خپل ټولنیز ژوند او خپلو هیوادوالو ته مخ راواړي ما نصیحت بجاي خود کردیم ...

توصیه امیر المؤمنین به مسؤولین امور

ح. شریعتي

ابو حصین روایت مي کند : امیر المؤمنین حضرت عمر بن خطاب "رض" خلیفه دوم پیامبر اسلام، وقتیکه کسي را بحیث آمر میفرستاد با آنها بیرون شده و تا یك فاصله دور بدرقه میکرد و توصیه حتمي نموده میگفت : شما را بر تن امت محمد "ص" آمر نساختم، شما را گماشتم که با آنها نماز کنید، میان شان به حق قضاوت کنید، شما را بر تن آنها تسلط نداده ام که تازیانه زنید تا آبرو، عزت و عظمت آنها را بخطر مواجه کنید.

مجبوریت که ...

په غالب گومان چي نن سبا حکمتیار صاحب په مزار او شبرغان کي دي ، که څه هم ځیني رپوټونه څرگندوي چي دي کله نا کله د میلمه په توگه له آمو او حیرتان اخوا هغو سیمو ته هم اوړي چي یو وخت یې هلته د شنه بیرغ د رپولو شعار ورکړي ؤ.

حکمتیار صاحب پدي وروستیو کي د بلخ پوهنتون د محصلینو په غونډه کي حیني حیرانوونکي څرگندوني کړي ده وېلي : په شمال کي نه دولت شته او نه حکومت او نه هم مونږ د متحدي جبهي غړي یو- د حیراني خبره ده پداسي سیمه کي چي نه دولت وي نه حکومت او قانون هلته بیا حکمتیار صاحب څه کوي ؟ یقیناً هغه سیمه به ضرور د ځنگل ینه ولري او د ځنگل قانون به پکي حاکم وي ، زما خو خپله په حکمتیار صاحب دا بیخي نه لوریږي چي پداسي سیمه کي و اوسیږي چي نه پکي دولت وي نه قانون او نه حکومت.

آخر دده څه مجبوریت دی، چي پداسي چاپیریال کي استوگن شي چي له قانون او حکومت نه، بې برخي ده، پداسي ساحه کي د حکمتیار صاحب اوسیدل خپله ځان له گواښ سره مخامخ کول دي ، د قانون او حکومت د نشتوالي په صورت کي له هر چا سره هر څه کیدای شي چي حکمتیار صاحب هم ځان تري نشي ژغورلي.

حیراني دا ده چي حکمتیار صاحب ولي دغه جهان په ځان دومره تنگ کړي چي له قانون، دولت او حکومت نه بې برخي سیمه کي اوسیدو ته اړ شوي دي د شاعر په وینا :

ولي پر خپل ځان دا هسي ارت جهان تنگ کړي

رباني صاحب څو ورځي د مخه شکایت کړي و چي د حکمتیار له خبرو د شر بوي راځي.

حکمتیار صاحب اعتراف کړي چي : مونږ د حالاتو مقابله ونشواي کړاي، اعتراف کوم چي د بهرنیو او کورنیو دښمنانو په غوړیدلو دامونو او جالونو کي ښکیل شوو . په دامونو کي د ښکیل کیدو ټول تاوان په دانه کي دي هر څوك چي په دام کي نښلي د داني په تمه او اسره نښلي، حکمتیار صاحب دا نه دي

چي په شمال کي نه حکومت شته نه دولت او قانون خو ځان نشي تري خلاصولي.

که حکمتیار صاحب په شمال کي د حکومت ،قانون او دولت په نشتوالي نه واي پوه څه خبره نه وه ستونزه دا ده چې ده په غوړیدلو سترگو لیدلي چي هلته د قانون، حکومت او دولت په نوم هیڅ نشته، پدي توگه هلته دده اوسیدل نه یواځي داچې د حیراني خبره ده بلکي له ځان سره ظلم او جفا هم ده . چي حکمتیار صاحب نه د متحدي جبهي غړي وي او نه په شمال کي قانو ن، حکومت او دولت وي هلته د حکمتیار صاحب په څیر شخصیت استوگنه معما ته ورته خبره ده . سمه ده چي په دغو سیمو کي زمونږ نور مظلوم هیواد وال اوسیږي خو هغوي د پهلوانانو له خوا یرغمل نیول شوي او بیوسه دي خو حکمتیار صاحب خو بې اوس هم د ځواك او زور خبري کوي څنگه دومره بیوسه دي چي په بې قانونه او بې حکومته سیمه کي اوسیدو ته اړ شوي دی.

ټول، دا مني چي په شمال کي نه حکومت شته، نه قانون او نه هم دولت انصاف، او عدالت خو داچي پدغه سيمي بې بندو باري ، گډوډي، او بې قانوني کي حکمتیار صاحب په ژوند تیرولو مجبور شوي د افسوس او تاسف ځاي دی.

پتی پاتی

شهرت ننگیال

آخر افغانستان خو یواځي شبرغان او مزار نه دي چي نه قانون پکي شته نه دولت او حکومت . مشهور متل دي : ملك خدا تنگ نیست - پاي فقیر لنگ - خو حکمتیار صاحب که څه هم تر ډیره د پیښور په فقیر آباد کي اوسیدلي خو ځان فقیر نه بولي څکه خو بې ارت وطن پر ځان تنگ کړي دي

حکمتیار صاحب وایي چي د متحدي جبهي غړي نه دي، خو دا بې نه دي ویلي چي دغه غړیتوب ده نه دي منلي که متحدي جبهي نه دي ورته ورانډي کړي،

ویلي چي له دغو جالونو او دامونو بې اوس ځان ژغورلي که همداسي پکي ښکیل دي، احمد شاه مسعود په کابل کي د حزب ناراضیانو ته ویلي ؤ چي حکمتیار ته مي قفس جوړ کړي او پکي اچوم یې، په قفس کي که ژوند هر ډول وي خو داني پکي ښې پریمانه وي.

قفس یواځي د سیخونو پنجره نه ده، صدارت هم قفس کیداي شي، مرحوم محمد هاشم خان صدراعظم به خپل مخالفین په صدارت کي ورسره نظر بند ساتل. آخر لدي پرته بل قفس څه ډول وي چي حکمتیار صاحب پوهیږي یم او وایي هم

کورنی فقه

پرله پسي

٤٥ برخه

د دین په زده کړه کي شرم په کار ندي

قاضي محمد حسن "حقیار"

الله «ج» چي انسان د یو عمل په تر سره کولو مکلف کړیدي یا یې د کوم کار له کولو نه منع کړیدي نو ددي مسئلی د شرعي حیثیت زده کول یې هم پري فرض کړیدي او ددي مسئلی بیانول او یادول بیا نه تنها دا چي شرم او حیا نه ده بلکه فرض او لازم دي ځکه چي مونږ مسلمانان یو د ژوند د هري برخي او هر کار لپاره مو حدود او چوکاټ اسلام تعینوي. همدارنگه د هغو مسایلو حدود او چوکاټ هم اسلام ټاکلي چي بیانول یې لازم دي یا په بل عبارت دا به هم راته اسلام وایي چي په فلاني مسئله کي تر دي زیات تفصیل او بیان په کار نده که څوك په کي بیا هم تفصیل کول یا اوریدل غواړي نو هغه سړي بې شرمه او گناهگار دي.

اسلام په خپله د شرم او حیا دین دي، حیا د ایمان «نیمه» برخه او بې حیا انسان له نیم ایمان نه بې برخي او محروم بولي رسول «ص» فرمایي چي : کله چي حیا نه درځي نو څه دي چي زړه غواړي کوه یې» پخپله رسول الله«ص» ډیر حیاناك شخصیت وو خو لکه چي د مخه مو ووېل د دین زده کړه یا بل چاته یې ورښودل (هغه چي اسلام یې د زده کړي او بل ته د ښودلو اجازه کړي وي) لکه جنسي مسایل ، حیض ، نفاس ... دا که هر څومره چاته د شرم خبره ښکاري خو یا دول یې بې حیایي نه ده بلکه پخپل ذات کي عبادت دي.

ددي لپاره چي د اطمینان او تسکین ډیوه مو لا روښانه شوي وي نو ښه به دا وي چي د هغو مسایلو او روایاتو څو نموني دلته را یادي کړو چي په اصطلاح د شرم او حیا مسایل گڼل کیږي .

پخپله رسول الله «ص» چي کوم احکام خپل امت ته بیانوي نو هدف یې دا دي چي امت یې دا مسایل زده کړي او عمل پري وکړي .

نو صحابه و او حتي امهات المؤمنین «رض» چي په محمدي سپیڅلي مدرسه کي څه زده کړي دي نو پرته له دي چي له ځان نه په کي څه کمښت او ډیرښت راولي په ډیره امانتداري سره یې امت ته بیان کړي چي نه یې په کي شرم احساس کړیدي او نه یې په کي تنگ کړیدي او ددي مسایلو له بیان نه د دوي اساسي هدف دا دي چي هغه فرضیت یا وجوب چي نورو ته ددي مسایلو د ښودلو په هکله د دوي په غاړه پروت دي ساقط شي او هم نور مسلمانان دا دیني مسایل چي دوي پخپله داسلام له یواځني شارح«ص» نه زده کړیدي نورو ته وښیي او که خداي مکره دوي ددي احکامو په روایت او بیان کي شرم محسوس کړي و نو نن به مونږ ددي مسایلو له احکامو نه څه خبریدلو .

که حضرت عایشي«رض» یا د رسول الله «ص» د مبارك حریم نورو بیبیانو د رسول الله «ص» د غسل طریقه مونږ ته نه واي بیان کړي او ځانته به یې شرم گڼلي واي نو نن به مونږ د شرعي غسل طریقه له چا یاده کړي وه .

ام سلمه «رض» روایت کوي چي ام سلیم «رض» د رسول الله حضور ته راغلله او عرض یې وکړ چي « یا رسول الله ان الله لا یستحي من الحق ...» یعني : « اي د خداي رسوله، الله «ج» د حق په ویلو کي شرم نه کوي نو آیا په ښځه کله چي ورته احتلام واقع شي، (شیطان یې وغولوي) غسل شته دي؟ رسول الله «ص» ورته وفرمایل چي . هو کله چي اوبه (مني) ووینې) بخاري کتاب الادب فتح الباري، او کشف الحقایق

په پورتنیو الفاظو کي په د محمدي مدرسه کي روزل شوي صحابیه په زغرده رسول الله «ص» ته وایي چي د دین په یادولو او په حق وینا کي شرم نشته او رسول الله «ص» هم ددي موضوع په پوښتني سره ونه رټله او نه یې پري د بې حیا نوم کیښود.

د هنر او ادب نړۍ

چي کشـور د افـغـانانو مـعطر کـا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

گسترهٔ شعر و ادب
در عمق نگاه استاد صلاح الدین «سلجوقی»

پوهیالی لیلما «یما»

شعر و ادب یکي از ضروریات اساسي زندگي آدمي به شمار میرود که در فرهنگ انساني جایگاه خاصي دارد. اما وقتي ما از شعر و ادب میگوییم منظور نظر ما شعر و ادب پویا و متحرك است که انسان را به تلاش و کوشش وامیدارد و گرهي را از مشکل زنده گي اش میگشاید و به راه‌بهتروخوبتر رهنمونش‌میشود.

اما شعر و ادبیاتي که از چنین یك شور و حرکت تهي است و این هدفمندي را در خود ندارد هر چند آراسته با بهترین شکل ها و قالبها باشد، شعر و ادب اصیل و بدرد بخور جامعه نیست چه از آن نمیشود سودي برد و میوه یي چید.

اگر به جامعه، ادبي خویش نگاه کنیم با دریغ و درد باید گفت که از سالهاي متمادي به این طرف اگر از استثنا ها بگذریم جریانهاي ادبي ما سیر قهقرایي داشته و نتوانسته است جنبش و حرکتي را در جامعه پدید بیاورد. این گفته دلیل بر آن نیست که ما شاعران و نویسندگان متعهد و رسالتمند نداشته ایم بل منظور ما آنست که شاعران و نویسنده گان رسالتمند ما را نگذاشته اند که درست بشناسیم، آثار شان را بخوانیم و به دیگران بشناسانیم. چه در طول سالها، هر جایي که شاعري سر بلند کرده و یا نویسنده یی قد بر افراشته از شور و حرکت و از فکر و اندیشه در هنر و ادبیات سخن به زبان رانده به دستور استعمار جلوش در جامعه گرفته شد، مهر دردهانش گذاشته شده و سد راه حرکتش قرار گرفته اند و روي افکار و اندیشه هایش عمداً خاك پاشیده اند و براي جامعه و مردم نا شناخته مانده اند. تا افکار و اندیشه هاي آنها مشعل راه مردم نگردد و روشنفکران در پرتو آن‌حرکت‌وجهشي‌نکنند.

یکي از این چهره هایي که افکار بلند و بالا داشت و میتوانست چراغي در برابر دیدگان جامعه، ما بیفروزد علامه استاد صلاح الدین سلجوقي است

گرچه از استاد صلاح الدین سلجوقي آثار متعددي به چاپ رسید اما از طرف دست نشانده هاي استعمار در برابر وي توطئه سکوتي بر پا بود قسمي که کتبي به عظمت آثار سلجوقي در محافل فرهنگي و ادبي راه نیافت و از آن در دانشگاه ها به حیث متون معتبر استفاده نشد و از مقامش چنانکه شایسته بود تجلیل به عمل نیامد.

چنانکه در یکي از نوشته هاي استاد گل احمد «یما» در مورد استاد سلجوقي میخوانیم که میگوید: «علامه سلجوقي از آن شخصیتهاي کم نظیر عصر ماست که نه تنها در سطح کشور ما همانند ندارد، بلکه در سطح کشور هاي اسلامي و در سطح جهان معاصر نیز بي نظیر است. اما چنانکه خصوصیت چنین بزرگمردان است آنگونه که شایسته است علي الرغم انتشار آثارش تا کنون شناخته شده است و جالب این است که علامه سلجوقي که انتظار اوج نهضتهاي اسلامي را در کشور و جهان داشت در طول جهاد که باید از آن زیاد نامبرده میشد و ایدیولوگها و متفکرین ما از آثار وي استفاده میکردند، استفاده نشد و در نتیجه همانگونه که در دوره هاي ما قبل جهاد نا شناخته ماند هنوز هم شناخته نیست.

بر فرهنگیان متعهد است که تا این توطئه سکوت را علیه افکار و اندیشه هاي بزرگمرداني نظیر علامه سلجوقي بشکنند و از افکار و اندیشه هاي آنها در پدید آمدن جنبشي در سطح شعر و ادبیات و تعالي افکار و اندیشه هاي روشنفکران و قلمزنان مسلمان جامعه استفاده، اعظمي نمایند.

استاد صلاح الدین سلجوقي درسال ۱۳۱۳ هـ ق. در ولایت باستاني هرات در منزل پدر متدینش مفتي سراج الدین سلجوقي دیده به جهان گشود.

استاد سلجوقي در مشاغل دیواني تا ریاست مستقل مطبوعات و سفارتهاي افغانستان در ترکیه و مصر پیش رفت.

از این نویسنده مفکر و والااندیشه درعرصه هاي مختلف آثار تألیفي و ترجمه اي در دست داریم چون: مقدمه علم اخلاق، افکار شاعر، جبیره، نگاهي به زیبایي، مکتور چیست؟ تجلي خدا در آفاق و انفس، فن چست و فنان کیست؟ تقویم انسان، انسان فردا، تهذیب الاخلاق، اخلاق نیکو ماکوسي، محمد «ص» در شیر خواره گي و کودکي و یك سلسله مقالاتي که در روز نامه هاي اصلاح و انیس، جراید پامیر و آیینه به چاپ رسیده است همچنان استاد سلجوقي به بعضي از کتابها مقدمه هاي مبسوطي نوشته است که میتوان از آن از مقدمه هایش بر دواوین ملك الشعرا قاري عبدالله و استاد خلیل الله خلیلي نام گرفت.

قابل تذکر است که در سالهاي ۱۳۳۰ استاد به تخلص مستعار (ابوحامد) نیز مقالاتي نوشته و به دست چاپ سپرده است.

استاد صلاح الدین سلجوقي به زبانهاي خارجي چون عربي، اردو و انگلیسي تسلط کامل داشت و با مبادي زبانهاي لاتین و ترکی استانبولي نیز آشنا بود. وي عضویت افتخاري انجمن هاي ادبي هرات، کابل و عضویت مجلس هزاره، فردوسي، عضویت احتفال گرامیداشت از الکندي و عضویت مجمع اللغته العربیه را نیز داشت. شایان ذکر است که استاد سلجوقي در پست اخر نخستین شخصیت علمي غیر عرب بود که به اساس تبحر خویش در زبان و ادب عرب این افتخار را بدست آورد.

از استاد سلجوقي شعر هایي هم به یادگار مانده که بیشترینه در آوان جواني به سرودن آنها پرداخته است.

استاد سلجوقي در ۱٦ جوزاي ۱۳٤۹ هـ ش داعي اجل را لبیك گفت و مقبره اش در شهداي صالحین جا دارد.

استاد صلاح الدین سلجوقي در عرصه هاي مختلف دست به قلم برده و به نگارش پرداخته است. ما در اینجا تك تك نقل قولهایي مي آریم از آن آثار استاد سلجوقي که در باب شعر و ادبیات به رشته، تحریر در آمده است.

ادامه دارد

یادونه

د ربیع الثاني په ۲ دیرشمه د یکشنبي په ورځ د اروابناد ځواني مرګ شاعر امان الله ساهو په یاد د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب په اداره کي یوه ځانګړي غونډه جوړه شوي وه درنو او محترمو لوستونکو ! راځئ چي د مرحوم امان الله ساهو روح ته د یو ځل بیا دوعاوي په خاطر دي غونډي ځیني مقلـونه او شعرونه ولولو.

اداره

سخنان کوتاه در مورد «ساهو»

خوانندگان محترم!
در محفل که به خاطر یاد بود از شاعر جوان و مجاهد کشور مرحوم «ساهو» در مقر اداره شعر و ادب دایرگردیده بودمحترم احمد ضیاء شریفي» یك تن از نویسنده گان کشور که گرداننده گي این محفل را به عهده داشت این سخنان کوتاه را در لابلاي نوشته ها و اشعار نویسنده گان و شاعران محترم قرائت نمود که توجه شما عزیزان را به خوانش آن فرامیخوانیم.

* ساهو یکي از فرهنگیان برجسته دوران جهاد به شمار میرود. او این جهاد بر حق را به وسیله قلم و قدمش به پیش برد و هیچگاهي در این راه دشوار و پر پیچ و خم خسته نشد و از پا نه ایستاد.

* قلم«ساهو» همچون خنجر قوي است که قلب هر ملحد و کافر را میدرد و روانهاي مؤمنان را شور و حال مي بخشد.

* «ساهو» قلم بدستي بود که همچو شبه فرهنگیان از براي جمع آوري پول و مادیات، مقام و جاه، قلم نمیزد بل او آگاهانه و مسؤلانه از روي ایمان و اعتقاد دست به آفرینش میزد و اندیشه هاي والاي نهفته در وجودش را براي خواننده آگاه خویش به ارمغان مي آورد.

* مرگ «ساهو» و خبرگاني همچو او فنا شدن جسم شان است نه افکار بلند و بالایشان، تا جهان است و انسانیت و اسلامیت، این افکار به جولان است و توسط رهروان راه حق دنبال مي شود.

بیا هم د گلاب له څانګو یو ګل پریووت

محمد حکیم

د غم او درد ګرندي سيلي یو ځل بیا د ادب او عرفان کړېدلي ټولني باندي مخه وکړه او زموږ د بڼ یو ښکلي او له ادبي ښکلا څخه ډك ګل یي له ځانګي جدا کړ او له زرغونو ښاخونو څخه یي د ځمکي پر تورو خاورو ترمي، ترمي وغورځاوه.

په ادبي ټولنه کي د داسي پیاوړو لیکوالو روزنه او ددغي تشي ډکول ډېره قرباني غواړي او بیا په تیره پداسي ټولنه کي چي هلته تل د درد، غم، وير، کړاو او مرګ، خبري کیږي تل پکښي د غمیزو ازانګي خوري وي او د مرګونو سیلي پکښي چلیږي نو آیا پداسي ناګوارو شرایطو کي د یوه ځوان روزنه په ادبي چوکاټ کي قرباني نه غواړي؟

همدارنګه زموږ په کړېدلي ټولنه کي د یو داسي پیاوړي ځوان لیکوال مړینه زموږ په زړه کي د یو داغ پاتي کیدل ندي؟

حقیقت دا دي چي دغه دردوونکي حالت په هر چا باندي اغیزه کوي مګر په یو ادیب او لیکوال باندي څو چنده زیاته اغیزه لري په دي نیږدي ورځو کي زموږ له ادبي ټولني څخه یو ځوان پیاوړي لیکوال امان الله ساهو د مرګ پر بستر پریووت د هغه خداي«ج» بښلي مړینه زموږ په ټولنه باندي زیاته اغیزه کړي ده او زموږ د لیکوالو او شاعرانو په زړونو کي یي یو بل داغ ورزیات کړ د ساهو صاحب

په هکله که زه څه لیکلي نشم نو زما قلم د نوموړي په هکله ډېر لیواله ده چي یو څه ولیکي.

ساهو صاحب د یوه اسلامي احساس خاند ؤ د جهاد په دوره کي د هغه قلمي جهاد ډېر د قدر او ستایلو وړ دي نوموړي د هجرت په لومړیو ورځو شپو کي د خپل ګران ټاټوبي څخه د هجرت ګرمو میروته لاړ. او هلته یي د خپل سپېڅلي جهاد اتلولي د قلم په واسطه زموږ کړېدلیو هیواد والو ته انعکاس کوله. او په دغو لیکنو یي زموږ ادبي ټولني ته ښکلا وروبښله. د ساهو صاحب حلیم اخلاق ښه لیکنه او

فصیحه ژبه ددي سبب شوله چي نوموړي ځوان زموږ د فرهنګیانو په لیکه کي ودروي او نوم یي د تاریخ په زرینو پاڼو کي ثبت شي. د ساهو صاحب یو شمیر اثار هم خواره شوي دي او څه یي ناچاپ پاتي دي.

دا چي هغه خداي«ج» بښلي له دي فاني د دنیا نه سترګي پټي کړي او د هجرت په میرو کي خاورو ته وسپارل شو. نو موږ ده ته د خداي «ج» له درباره د جنت فردوس غوښتنه کوو.

ساهو صاحب زموږ د ادبي ټولني یو نیالګي ؤ د نوموړي نیالګي له منځه تلل زموږ د ادبي ټولني له پاره یو بوږنوونکي غم ؤ چي زموږ په روان کي یي ازانګي ووهلي او زموږ ادبي څانګه یي په لمدو سترګو کینوله.

این بته هاي وحشي

برگردان دري پارچه ادبي کوتاه مرحوم امان الله «ساهو» که توسط محترم کوشا ترجمه گردیده است

این بته هاي وحشي را که در کنار گلهاي بهاري روئیده به شما تقدیم میکنم. این را میپذیرم که رنگیني گیاهان روبایي را ندارد و عطر و بویش کسي را تحریك نمیکند ولي، شما آنرا بجاي سبد پر گلي از من قبول کنید. در امین

احساس من، ژاله نفرت و کینه باریده و حالا این بته هاي وحشي، گلهاي محبت و زیبایي را بار نمي اورند. ولي؛ من این بته هاي وحشي را به شما تقدیم میکنم.

براي شما: اي شبهاي رنگین کودکي من که مانند خوابهاي زیبا و کوتاه زودگذر بودید، اي دیوار هاي گلي دهکده ام که در هنگام (چشم پتکان) با همبازي هاي خود، در عقب تو پنهان میشدم، اي جویبار پشت خانه مان که از اشکهاي چشمان کودکانه ام کوتاه تر و از ساحل هاي زیبا، زیبا تر بودي.

اي دوستان، بازي، مکتب و درس من، که نمیدانم در کجا هستید! من این بته هاي وحشي را به شما تقدیم میکنم.

در رثاي مرگ نا به هنگام ادیب کشور امان الله «ساهو»

محمد ضیاً «کوشا»

سالار کاروان ادب از جهان برفت
شمعي ز جمع شعر و ادب ناگهان برفت
او را مگر زمین دگر جاي خوش نبود
«دست سخن گرفته و بر اسمان» برفت
همراه قدسیان فلك هم مقام گشت
از حکم حق بر انجمن نوریان برفت
واحسرتا که مهر خموشي به لب نهاد
ساهو بلي به کشور بي داستان برفت

خداي ببښلي ساهو ته!

محمد نعمان دوست

اوس یه څه ورباندي شعر یا مرثیه کسم
خو نستي و د نیکونو په لار تیر شو
(علي خان)

اي زموږه مضوره!
وایه څه شوي! ستا له نازکو او فنکارو ګوتو انځورګر مویك چا واخیست چیرته لاړي؟ وایه کنه! اوس به زموږ د دردونو او غمونو انځور ګري څوك وکړي؟ تا خو «تصو برونه جوړول او وراتول» د کوم رنګ شوي تصویر ازار در پسي شو چي ستا ښایسته او ښکلي تصویر یي د تل لپاره رنګ پریښود؟

تا خو «د یو ښایسته تصور په لور سفر کوه» څنګه ټکني شوي ولي دي هرڅه بدل کړ، ددي «پیجلي لاري کږلیچونه» خو تا ته وراندي نه معلوم وو.

یوه شوم! تا هیله شوي، تا د دردونو او کړاونو په دي وران وطن کي خپل ښکلي ارمان ونه موند هو، تا هیله شوي. تا باندي هغه خور «خوب» کوم سپیره غړوران کړ؟ کوم کي چي تا یه «ان تر لمر ختلو پوري لکه د تړي زرك په ځیر اویه لیدلي» هغه درباندي هم د وخت ونه لوریده.

څه شوي او د حسن مینه!

تا خو «ښکلا ګاني بربنډولي» د «رنګونو غسلونه» دي ورکول اخر ستا خپله ښکلا چا لوټ کړه، تاته ښکلي رنګ چا وتوره وایه کنه؟ ته «د تقدس لمر ته تود شوي وغوړېدي» او له هغه چا چي دي څه غوښتل د هماغه په لاربښوونه دي «ځان وسوځاوه او د ابهام دښتي ته

نور او رڼا شوي».

نه لکه یو «ستوري بي وسه او بي کوره» لاړوي «ډیر وګرځیدي پټي دي نه کي تسوي خو د امن (کور) دي ونه موند اخر د چا درباندي زړه وسوځید لار یي دروښوده تا هم په هماغه لار (دمیني ښار ته کډه وکړه)

«ګریوان دي ځیري کړ» ځان دي بربنډ کړ «خپل پوست کي ورك شوي» او تاته (دا لکه د مور د رحم ماشوم یوه ښایسته رویا شوه» ګرانه ساهو! که څه هم تا له موږه خپله لاره جدا کړه مرور شوي لاړي له سترګو ورك او پناه شوي خو ستا د نیمګړي ځواني ارماني تصویر به د تل لپاره زموږه د ټپي زړونو په سوریو دیوالونو نقش وي.

مسافر ساهومي

ملا اسد الله «حنیفي»

په بل وطن کي مرګي یو وړ در په در ساهومي
لکه لاله په سینه داغ داغ مهاجر ساهومي
ډيري ګرمي ډېري سختي یي په ځان تیري کړلي
د ازادي په تمه تمه خیالیګر ساهومي
ؤ د جهاد ؤ د پاڅون ؤ د سپېڅلي بهیر
ښه با احساس ښه با ایمان ښه زوروړ ساهومي
د وران وطن د ابادي د خپلواکي په ارمان
تقدیروېده که تر قیامه په بستر ساهومي
«بهیر» یي پرېښود «پسرلي» ته په پردي‌وطن‌کي
په لوي سفر یي کډه وکړه مسافرساهومي
غلبیل غلبیل په زړه سوري سوري غمو خوړلي
خاوروته ښکته کړ ګرمو د پېښور ساهومي
کابل دوهم مکروریان ۱٤۱۹/٤/۳

څه شو؟

ډاکتر باز محمد «ښادمن»

ډیري اوښکي توي کړي چي یو سر درنه‌رخصت‌شو
هسي څه یي مه یولي لوي غر درنه رخصت شو
اي د زاړه میره له انګه تر کاپله
مه راځه نور دلته چي خبر درنه رخصت شو
غم به یي ګودرته د پایزیو بیا را نه شي
ګوره مازیګره زیري لمر درنه رخصت شو
بیا به د ګل پاڼونه اسیل سپوږمي ته جوړ نه کا
ډك له اسویلو څخه ښهر درنه رخصت شو
نور به د روژي خمار په سرو میو څوك مات نه کا
وخته یي خبره چي اختر درنه رخصت شو
کله به ښکلا بیا په خنداو سره ویښي
وژړېږي خلکو پت هنر درنه رخصت شو
اي ښکلیه! ځاروانه په ځنګله کي لاړ ته پام کوه
ستوري په سامان کي د سحر درنه رخصت شو
څه غواړي «ښادمنه» له دي کلي او ښښترونه
څه د ښکلو زړکو لوي ګودر درنه رخصت شو

په یاد (ساهو)

حبیب الحق جبلي

فریاد چشم پوشیدا ز دار جهان (ساهو)
رحمت بشما یا رب برروح روان (ساهو)
استاد علوم دین، با امان الله مشهور
(ساهو) تخلص میکرد بین ادیان (ساهو)
اخلاق خوش امیزش،اشعار دل انگیزش
چون ورد زبان باشد بین همه گان (ساهو)
دلها همه غمگین است از رحلت آن مرحوم
با سالم علوي رفت آن پاك دلان (ساهو)
محتاج چراغي نیست چون قبر و مزار او
قبرش چو درخشان است ازطبع روان (ساهو)
بودند چو پروانه مشتاق گل رویش
هر کس که ورا دیده از خورد و کلان (ساهو)
از طبع خدا دادش نامش به جهان باقیست
یادش نرود از سر هر عصر و زمان (ساهو)

در ظاهر و در باطن دائي «جبلي» باشد
بریاد بزرگ مردان این زنده دلان (ساهو)

د ساهو په مرګ ویرنه!

وفایار

د زرګي مراندي مي پري شوي‌جانان‌لاړو
نور تر خاورو لاندي روح تر اسمان لاړو
ګونګسي کلي په کلي تن په تن شوي
له بل کوره مسافر په آرمان لاړو
د همت قلم یي ؤ لاس کي تیولي
غزل خوانه یو بلبل له بوستان لاړو
د «پسرلي» په بڼ بیوخته خزان راغي
د سرسل تر ګلو ښکلي ریحان لاړو
ژولني ورته د مرګ استازي راوړي
لاس تړلي له دنیا بندیوان لاړو
د افغان د خاوري غم کي‌یي‌ساه‌ورکړه
مسافر ته ورته وایم افغان لاړو

وفایاره کسره د وغـا وریسي ډیري
د ادب خدمت کي ستړي ستومان لاړو

درندانو په جامه کي

عبدالمتین «عمران»

د اجل استازي راغلل بلبلان راځیني بیایي
هسي ښکاري غله بدنوي‌په‌کاروان‌چي‌مو‌پریوتي
پردیسي یي اوښکي. اوښکي دهرېمقاره‌هاردي
مویه هسي پري غولیږو چا هغو ته ښه خودلي
د تیارو زلفو خوري شي؛ د سپېڅلو‌هیووخ ته
د جنت حورو تري غوښتي‌شاعران‌راځیني‌بیایي
د توښي تالانګر نه دي لاروبان راځیني بیایي
ګیله من، له ګیله منو بردیسان‌اځیني‌بیایي
درندانو په جامه کي زاهدان راځیني بیایي
د رڼا ویږمي خوربري پتنګان راځیني بیایي

د کندهار د فوايد عامي رئيس محترم ...

موټر مو د کابل ته موقتاً د کار لپاره راوستي يو باروړونکي د لرګي بادي والا موټر، دوه لوډره، دوه د اوبو ټانکرونه، دري بلدوزرونه چي يو پخواني جوړوو او دوه موټر ترميم کړل، دوه برمي ، دوه کمپريشرونه يو کرن، يوه مزدار دوه داتسن، دوه تراکتورونه ، دوه چينه شاول، يو مکسچر چي اکثره يي موټر نوي پيرودلي دي کارته اماده لرو.

پوښتنه : تر اوسه مو کوم کارونه سرته رسولي دي ؟

ځواب : تر اوسه مو د قشله جديد معبر، د خوشاب زاير د اغنداو د پيلکو د بند کاسه، د تلقام سرك ترميم کړيدي ، د خرقي شريفي او نوي عيدګاه سطحه مو هواره کړيدي ، په سوزني بند کي مو اويو ته سل متره پوخ ۲،٤٥ متره لوړ استنادي ديوال جوړ کړي دي همدا راز د کابل چمن د سرك اساسي ترميم مو پيل کړيدي.

پوښتنه : تاسي د کندهار چمن د سرك د اساسي ترميم خبره وکړه که په دي اړه معلومات راکړي ؟

ځواب : د کندهار چمن د لويي لاري اساسي ترميم مو پيل کړيدي او تر اوسه (ددي مرکي تر وخته) تر کوټل پوري پري جغل اچولي دي او د قير کار مو پري اوس پيل کړيدي چي د لويي ويالي نه تر ترنك پوري قير شوي هم دي.

پوښتنه : قير له کومي را پيدا کوي ؟

ځواب : دلته د قير جوړوني فابريکه وه خو متاسفانه چي په جګړو کي خرابه شويده اوس مو نوي فابريکه پيرلي ده .

همدا راز د تيرو د ماتولو ماشين مو هم فعال کړ.

پوښتنه : تير کال مو څومره عوايد تر لاسه کړيدي او اوس په بانك کي څومره دارايي لري ؟

ځواب : د تير کال عوايد مو پنځه زره لکه افغاني وي او اوس هم په بانك کي دوه زره لکه افغاني دارايي لرو .

پوښتنه : ايا د سوداګرو، موسسو او عامو خلکو کارونه هم کوي ؟

ځواب : اوس مو ډېره توجه د کندهار چمن د سرك ترميم ته ده کله چي له دي کار نه فارغ شو نو د هر چا فرمايش منلو ته چمتو يو .

په ميدان کي د اسلامي امارت رغوونکي ...

د ښاغلي داکتر عبدالوکيل په خاصه پاملرنه او هلو ځلو په دي سيمه کي نيالګي کيښودل شو او نور زراعتي فعاليتونه پيل شول ډېر زر ددي سيمي د اوسيدونکو د ژوندانه په سطحه کي ستر بدلون راغي .

د جهاد په لومړنيو وختونو کي د ميدان د سيمي اوسيدونکي هغه ميړني ، او په اسلام، وطن او پرګنو مين خلك وو چه په تش لاس او سره له دي چه کابل ته ډېر نژدي پراته وو د کمونستانو پر ضد يي په وسله وال جهاد او پاڅون پيل کړ او په ډېر لږ وخت کي يي ددي منطقي ډېري برخي د روسانو د ګوداګيانو له تسلط او نفوذ څخه آزادي کړي.

په ميدان کي د اسلامي امارت محترمو کارکوونکو او مسوولينو له يو لړ اقتصادي ، سياسي ، نظامي او ټولنيزو ستونځو او پرويلمونو سره سره د هيواد او سيمو د هوسايي او سوکالي په برخه کي نه ستړيکيدونکي اغيزناك او چټك ګامونه اخستي دي د مثال په توګه .

د ميدان د کوټه عشرو په سيمه کي د محترم مولوي حفيظ الله د هلو ځلو په نتيجه کي د پولي کلنيك او روغتون وداني چه پنځوس بستره ايزه روغتون دي په ډېره ښکلي او ښايسته توګه پاي ته رسيدلي او هم تهيه تنه مسلکي داکتران او نور پرسونل ورته په نظر کي نيول شوي دي. ددي کلنيك تر څنګ يو حيواني کلنيك هم وجود لري همدغه شان په دا ساحه کي د يوي نوي ليسي د جوړولو کار په ډېره بيړه روان ده په همدي ترتيب د کوټه عشرو په منطقه کي د يوه لومړني ښوونځي لپاره په ډېره عصري توګه يوه ښکلي وداني آباده شوي او په دا ښوونځي کي تر ۸۰۰ تنو پوري شاګردان په ليك او لوست بوخت دي ددي ساحي له مهمو مميزاتو او خصوصياتو څخه د يو دارالايتام تأسيس هم دي چه په هغه کي ٦٠ تنه شاګردان په ليليه توګه په درس او تعليم لګيا دي او بل يي د دارالعلوم د مدرسي موجوديت دي چه په هغي کي ۸۰ تنه طالبان په ليليه توګه شامل شوي دي دا هم بايد وويل شي چه په دا ساحه کي د يو جومات وداني چه په ډېره عصري توګه جوړيږي او په سلو کي يي شپيته برخي پر مخ تللي هم مد نظر نيول شوي دي .

همدغه شان د اسلامي امارت په رڼا کي ډېر لومړني ښوونځي لکه (کريم داد ، توکرك، صد مراد، داول ، قلعه قيام، شهاب الدين، زيولات، جلريز) او په نورو سيمو او کليو کي تاسيس او په سل هاوو تنه ماشومان په کي په ليك او لوست بوخت دي. په همدي ترتيب د ده مسلم په سيمه کي د خالد بن وليد ليسه موجوده او په هغي کي نژدي دولس سوه تنه شاګردان په تحصيل لګيا دي چه د لايقو او مشهرو استادانو له خوا ورته تدريس کيږي . دا هم بايد وويل شي چه ددي لومړنيو ښوونځيو او ليسو وداني د کمونستانو په وخت کي کاملاً وراني ويجاړي او اوس د اسلامي امارت په روښانه او ځلانده دوره کي بيرته فعاله شوي دي.

د جلريز د ولسوالي په پاي کي د اسلامي امارت ډېره ستره او ټينګه نظامي کرښه موجوده ده چه د اتلو او حماسه زيږونکو مجاهدينو له خوايي ساتنه او څارنه کيږي ددي خط او کرښي مشرتوب او قيادت ډېر مشهور او نامتو قومندان حاجي موسي خالقي او د هغه ورور حاجي غلام محمد په غاړه لري دي دووتنو د جهاد په موده کي د روسانو او د هغوي د مزدورانو په خلاف په ډېره صادقانه او ميړانه جهاد کړي او خپل ايماني او وجداني مسوليتونه او مکلفيتونه يي د څښتن تعالي او د وګړو په وړاندي په ښه توګه سرته رسولي دي. موسي خالقي او د هغه اتل مجاهدين د پرګنو په منځ او زړونو کي خاص محبوبيت لري او دغه اسلامي سيمه يي د وحدتي د شر او فساد له خاينو او ظالمو مليشو څخه په ډېر شهامت او رشادت سره ساتلي ده.

دا هم له نظره نه شو غورځولي چه په دي وختونو کي په ميدان ښار کي د آبادي او نورو عمرانانو په برخه کي هلي ځلي په ډېره بيړه سره رواني دي او دا زيري راکوي چه اميد شته په ډېر لږ وخت کي ميدان ښار يو عصري او مودرن ښار وګرځي . او يا تجارتي مارکيټ او مرکز شي.

عبدالمحمد مموزي

فارياب ولايت په بشپړه...

فارياب ولايت د تصفيوي عملياتو په هکله د يوي پوښتني په ځواب کي وويل :« موږ خپل تصفيوي عمليات د ربيع الاخر په ۷ مه نيټه د پنجشنبي په ورځ پيل کړل ددغو عملياتو په ترڅ کي د خواجه موسي ولسوالي فتحه شوه او د جمعه بازار په ولسوالي مو له دوو خواو څخه عمليات پيل کړل او هغه هم په الهي نصرت سره فتحه شوه او د ربيع الاخر په ۸ مه يعني د جمعي په ورځ په الهي نصرت سره وتوانيدلو چي د فيض اباد او دولت اباد ولسوالي هم فتحه کړو، د فارياب د ټولو ولسواليو د ديندارو او مسلمانو خلکو مستقيمه مرسته زموږ سره ده او ټول زموږ تر شا ولاړ دي د بلي خوا نه هغه وسله وال کسان چي تښتيدلي وو او يا په کوم ځاي کي پټ شوي وو ډله ډله راځي او خپلي وسلي د اسلامي اردو ځواکونو ته تسليموي او د اسلامي امارت سره خپل پيوستون څرګندوي. ددغو عملياتو په لړ کي په ډېره پيمانه موږونه، ټانکونه، سپکي او درني وسلي د مجاهدينو لاس ته ورغلي او نژدي پنځه سوه تنه د ګلم جم مليشي ژوندي نيول شوي دي د ګلم جم مليشو له ظلم څخه د شمال خلك ډېر په تنګ راغلي دي او هره شيبه د اسلامي اردو د مجاهدينو ورتللو ته سترګي په لاره دي . »

د باختر د اطلاعاتي آژانس د رووستي خبر له مخي د اسلامي اردو مجاهدين د خپلو چټکو او بريښنا ډوله عملياتو په ترڅ کي په دي وتوانيدل چي په فارياب کي ددښمن وروستي ځاله ونړوي او د اندخوي د استراتيژيکي ولسوالي په بشپړي فتحي سره د فارياب د ولايت بشپړ کنترول تر لاسه کړي .

په فارياب کي د اسلامي اردو د تصفيوي عملياتو مسؤول او د افغانستان د اسلامي امارت د کورنيو چارو د وزارت سرپرست محترم ملا خير الله خيرخواه د بي بي سي راډيو خبريال ته د اندخوي د ولسوالي د فتحي په اړه داسي وويل :« د فيض آباد او دولت آباد د ولسواليو په تعقيب الحمد لله موږ د سيمي د خلکو په همکاري په دي وتوانيدلو چي د فارياب په ولايت کي د د دښمني وروستي کمر ونړوو اوس د اندخوي په فتحي سره د فارياب د ولايت بشپړ کنترول زموږ په لاس کي دي . محترم خيرخواه زياته کړه چي زموږ د تصفيوي عمليات راتلونکي هدف د شبرغان ښار دي . »

د اندخوي په ولسوالي کي د ترلاسه شويو وسلو او مهماتو ، نقليه وسايطو او دښمن ته د وراوښتو زيانونو په اړه دقيق معلومات تر لاسه شوي ندي.

نامه ...

سوؤ استفاده ها ، خريد و فروش توزيع ګرديده البته تمديد هاي پي د. پي کارت هاي سابقه که قريب يك و نيم سال را در بر ميګيرد و فيصدي بسيار محدود مستحقان در آن شامل مي باشد بيانګر اين مطلب ما خواهد بود. اګر توان مالي موسسه محترم قدرت آن را دارد که بر علاوه کارت هاي موجود به يك تعداد مستحقين واقعي نيز کارت توزيع شود از اين چه بهتر در غير آن چرا به شمول نماينده ګان طلبه هاي کرام پروسه سروي و توزيع تجديد نمي ګردد تا هموطنان واقعاً مستحق هم از اين امتياز ناچيز مستفيد شوند.

والسلام

ا.م.م از شهر کابل

برادر محترم ا.م.م از شهر کابل

مطلب ارسالي تانرا غرض جلب توجه ادارات ذي ربط بنشر رسانيديم اميد است که ادارات مربوطه در زمينه توجه نموده و در رفع مشکلات که از اين ناحيه موجود ميباشد اقدام عملي نمايند.

اداره

د کندز ولايت د خان اباد ...

تومورړي ولسوالي ولسوال مولوي محمد اسمعيل فرقانيار په خپلو خبرو کي وويل : چي د بريښنا د سربند به بيا ترميم او فعالولو سره د خان اباد ولسوالي ۲۰۰ کورنيو ته بريښنا بيا ورسيدله او هم ۷ زره جريبه زمکه د اوبو لاندي شوه .

برګشت مهاجرين به کشور ...

و بعد از دريافت کمك امارت اسلامي و موسسات خيريه دو باره بمنازل اصلي شان جابجا ګرديدند.

موسسات خيريه داخلي ...

آب آن صحبت و تبادل نظر همه جانبه صورت ګرفت .

متعاقباً روسا و نماينده ګان موسسات غير حکومتي داخلي از انتقال دفاتر شان به بلاك هاي متذکره ابراز آماده ګي نموده، همکاري بيشتر شانرا در رابطه به عرضه خدمات ارزنده به هموطنان ما اظهار داشتند.

بلاك هاي مربوط بعد از ترميم اساسي و تأمين جريان برق و آب به دسترس موسسات خيريه داخلي قرار خواهد ګرفت که امارت اسلامي از هيچګونه همکاري در زمينه تهيه و آماده ساختن امکانات لازم به اين موسسات دريغ نورزيده و تلاش مي ورزد تا به منظور فعاليت هاي سالم و منظم آنها تسهيلات بيشتر و بهتر فراهم سازد.

د مزار شريف څخه زموږ ...

کوچ راوکړ ؟

اي وروره! تا خو د شر او فساد د قدرت او پادشاهي په وخت کي د کابل په هره کوڅه او برخه کي هر څه په خپلو سترګو ليدلي دي، اوس هماغه حال په مزار شريف کي روان دي. هر وسله وال فرد قوماندان او پادشاه دي هر څه يي چي زړه وغواړي هماغه شان کوي. اوس چي طالبانو فارياب نيولي د تنظيمونو له خوا چور او چپاول ، بي ناموس، وژنه او جنګ ته په زوره بوول اوج ته رسيدلي دي دوي اوس پر خپلو ځانو او خپل سر يو باندي بي اعتماده شوي دي او هلته داسي ګونګسي وي چي نن سبا طالبان مزار ته را ننوځي که رښتيا درته ووايم او راباندي په قهر کيږي نه نو وحدتيانو د ومره لويي او بي شرمانه بي ناموسيو ته لاس اچولي دي چي ان د... لور ورته برابره شي او ښکلا او ځواني ولري، په خداي که دريغ ور څخه وکړي، نو زه خو غريب هزاره يم . همدا علت و چي د خپل سر ، ناموس او مال د نجات په خاطر مي د مزار شريف څخه کابل ته کوچ راوکړ .

مونيکا ليونسکي له بل ...

غږ هم ددي دعوي په هکله د نويو څرګندونو په لړ کي ويلي چي د مونيکا هغه جامي چي له کلنټن سره د ناروا اړيکو په موقع يي په ځان کي وي او ځيني خاپي هم په کي ليدل کيږي د څېړني هيئت ته سپارل شويدي.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

په فارياب کي د اسلامي اردو برياوي او د مليشو له شرمه ډك تبليغات

په دي وروستيو ورځو کي د اسلامي اردو فاتحو مجاهدينو د فارياب ولايت مرکز د ميمني ښار فتح کړ د مجاهدينو دي تندريز تصفيوي تعرض چي په الهي نصرت او د سيمي د مسلمانو اوسيدونکو په يي ساري همکاري سره تر سره شو په شمال کي په اصطلاح نظامي بن بست يو ځل بيا مات او د باغي مليشو ډلګي يي تر سخت ګواښ لاندي راوستي که څه هم د سيمي د ډله ايزو اطلاعاتي وسايلو له اړخه د ميمني د ښار د فتحي خبر ورکړل شو خو مخالفو مليشو او د هغوي بهرنيو پلوي راډيوګانو د ميمني د فتحي له تصديق څخه په ډېره بي شرمي سره انکار وکړ کله چي د ميمني نيول بالکل ټولي نړي ته يقيني شول اود مليشو چارواکو نور نشو کولاي انکار ترينه وکړي بيايي ناري سوري جوړي کړي چي دا دي اوس او سبا او يا څو ساعته وروسته به ميمنه بيرته ونيسو په داسي حال کي چي د ميمني سقوط بي هيڅکله هم نه ومنلي خو د هغي سيمي د بيا نيولو خبري يي پيل کړي . د مليشو مشرانو او د هغوي بهرنيو آمرانو چي پرته له بيشرمه دروغو او د خلکو پر سترګو له ورننوتلو څخه نور هيڅ هم نه دي ورته پاتي د فارياب د حالاتو په هکله يي داسي راپورونه خپاره کړل چي ډېر حيرانونکي وه د مثال په توګه د مليشو يو تن کمونيست قوماندان جنرال يوسف يوه ورځ د قيصار او المار د محاصري ادعا وکړه ، سبايي ددي خاينو د نيولو دعوي وکړه ورسره يو ځاي ډاکټر عبدالله د کوهستانانو له اړخه د مليشو د پر مختګ ناري پورته کړي او د انجنير توريالي په نامه يوه کس له مشهد څخه سهار ورځپاڼي ته داسي دروغجن راپورونه ورکړل چي حتي په خپله د مليشو مشرانو ته هم د منلو وړ نه وه هغه د تيري چارشنبي په ورځ ادعا وکړه چي د مليشو ځواکونه د ميمني ښار ته ننوتل، هوايي ډګر او د تلويزيون غونډي يي ونيوله او اوس د ښار په لارو او کوڅوکي جګړه روانه ده او عملاً پر ميمني د طالبانو واکمني ختمه شوي خو کله چي ددي موضوع په هکله له کريم خليلي څخه د تهران د راډيو خبريال وپوښتل نو هغه وويل چي د متحدي جبهي او جنبش ځواکونه اوس منظم شوي او حملي يي پيل کړي ډېر ژر به له طالبانو څخه ميمنه ونيسي د انجنير توريالي په نامه کس خبر دومره له دروغو او شرم څخه ډک وه چي حتي کريم خليلي هم د هغه پر تصديق شرميده البته د سهار ورځپاڼي په ډېر غټ سرليك سره هغه خبر نشر کړ بي ځايه به نه وي که ووايو چي د داسي دروغجنو خبرونو خپرول د سهار ورځپاڼي خپلواستوب تر پوښتني لاندي راولي او حيثيت ته يي هم غټ تاوان پيښوي خداي«ج» وکړي چي وروسته له دي پام ورته وشي. که څه هم د مليشو ويندويانو تر پرونه پوري هم د ميمني پر بيانيولو ټينګار کاوه خو د جمعي له ورځي څخه د اسلامي اردو د اتلو مجاهدينو بريښنا وزمه نوي خوځښت او ددي بريالي حملي په نتيجه کي د ا[illegible] په شمول تردي ولسوالي پوري د سيمو او ولسواليو آزادولو د مليشو له ويندويانو څخه هم لاره ورکه کړه چي اوس ددي او د دوي بهرني پلوي راډيو ګاني حتي د فارياب نوم هم په ژبه نه اخلي او ځانونه له مصاحبو څخه پټوي. د دولت آباد له فتحي سره اوس محمدي لښکر د ليلي دښتي ته څيرمه سيمو ته رسيدلي او د اسلام د فاتح لښکر سپين بيرغ د رپيدو وړمي د دولت اباد له لوړو ځوکو څخه د ليلي په دښته کي د اسلام د څه د پاسه دوه زره تنو نازولو، مظلومو او مسافرو شهيدانو د ډله ايزو قبرونو کاني او خاوري تخنوي او دا زيري ورته رسوي چي ستاسي شهادت رښتيني شهادت وو او ستاسي وينې بي حاصله او بي بدله پاتي نه شوي دا دي ستاسي غيرتمن او پر خداي مين ورونه يو ځلي بيا ستاسي د ارمانونو د پوره کولو او د هيواد په شمال کي د محمدي غرا شريعت د حاکمولو په نيت ستاسي زيارتونه وارسيدلي او انشا، الله ډېر ژر به ستاسي د ظالمو قاتلانو د ظلم او وحشت خوني وراني او د شمال مظلوم مسلمانان به د هغوي له شر څخه وژغوري او ستاسي ارمانونه به تر سره شي .

د فارياب ولايت د فتحي په بشپړيدو سره چي انشا، الله همدا نن او سبا به تر سره شي د مليشو د سترو ځالو او اصلي مرکزونو شبرغان او مزار شريف، د آزادي ورځي را نژدي کيږي د شبرغان او مزار شريف مجاهد او سيدونکي همدا اوس د الهي لښکر د نور په تمه لاري څاري او دي ته ناست دي چي ژر تر ژره بيا د سولي او خلاصون دغه سپيڅلي کاروان د دوي سيمو ته ورورسيږي او د کمونيزم وروستي پاتي شوني د دوي له سيمو څخه ورك کړي . پر خداي توکل او د خداي پاك مرسته د اسلام د غازيانو لويه بروسه ده او انشا، الله همدا ځواك به د مليشو ځتهونه ورمات کړي . اللهم انا نجعلك في نحورهم...

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press